# هفته نامه ارمان شهدأ و معلولین افغانستان

وزارت دولت در امور شهدأ و معلولین

ژمنتیا، ریښتینولي او ولس ته خدمت زموږ په کاري لومړیتوبونو کې دي!

شپږویشتمه ګڼه، پنج شنبه ، ۲۴ دلو ۱۳۹۸




ولایتي آمرینو ته د وړتیا لوړونې او همغږۍ دوه ورځنی ورکشاپ ...۲



د شهیدانو او معلولینو چارو د ولایتي آمرینو...۳



ورکشاپ ارتقاء ظرفیت و هماهنگی برگزار گردید...۴

## د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د رهبرۍ له لوري د اړوند وزارت د شهیدانو او معلولینو چارو ۳۳ ولایتي آمرینو ته د وړتیا لوړونې او همغږۍ دوه ورځنی ورکشاپ

شهیدانو کورنیو ته د حقوقو ورکړې مېکانېزم، نویو معلولینو ته د کتابچو ورکړې پروسې، ښېټابېس، حقوقي چارو، جندر برخې، مالي او اداري چارو او عامه اړیکو په اړه پرېزنټېشنونه وړاندې کړه. د دې ترڅنګ ولایتي آمرینو خپلې ستونزې، غوښتنې او وړاندیزونه د ګروپي کار په بڼه د وزارت رهبرۍ سره شریکې کړې د ورکشاپ په وروستۍ ورځ د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر سرېېره د اړوندو همکارو ادارو (د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې، عامې روغتیا وزارت، لوی څارنوالۍ، د نفوسو د ثبت ملي ادارې او د ملي امنیت عمومي ریاست استازو هم ګډون درلود ښاغلي آریوبي وویل، چې ۱۳۹۹ال کال د جلالتماب جمهور رییس له خوا د اصلاحاتو او ریفورم کال اعلان شوي دی او د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت ژمن دی، چې د همکارو ادارو په همکارۍ د شهیدانو د وارثینو او معلولینو په برخه کې هر اړخیز اصلاحات رامنځته کړي. ښاغلي آریوبي زیاته کړه، چې یاد قشر ته رسېدنه یوازې د یوې اداري مسولیت نه دی او د ټولو بنسټونو همکاري اړینه ده ښاغلي آریوبي وویل، چې په تېرو کلونو کې معلولینو او د شهیدانو وارثینو ته نه یوازې دا، چې پاملرنه نه ده شوې، بلکي په مرکز او ولایاتو کې خیني خپلسري اجرات ترسره شوي، (پاتې برخه ۲ مخ)









### مطبوعاتي اعلامیه
### ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۳- کابل

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د رهبرۍ له لوري د اړوند وزارت د شهیدانو او معلولینو چارو ۳۳ ولایتي آمرینو ته د وړتیا لوړونې او همغږۍ دوه ورځنی ورکشاپ د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي په وینا پای ته ورسېد په دې دوه ورځنی ورکشاپ کې د وزارت د اړوندو برخو رییسانو له لوري ولایتي آمرینو ته په ولایاتو کې معلولیت لرونکو وګړو او د



## د شهیدانو او معلولینو چارو د ولایتي آمرینو د وړتیا لوړوني او همغږۍ ورکشاپ پیل شو

نن سه شنبه (د سلواغي میاشتي ۲۲ نېټه) د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت له لوري د شهیدانو او معلولینو چارو ۳۳ ولایتي آمرینو ته د وړتیا لوړوني او همغږۍ دوه ورځنی جوړ شوی ورکشاپ د وزارت د تخنیکي مرستیالي جمیلي نورستانی په وینا پیل شو آغلي جمیلي نورستانی د شهیدانو او معلولینو چارو ټولو ولایتي آمرینو ته د ښه راغلاست تر څنګ د یاد ورکشاپ پر ځرنګوالي او ارزښت خبرې وکړې وویل، چې د وزارت او ولایتونو تر منځ د همغږۍ رامنځته کېدو په موخه د ورکشاپ د جوړولو ډېره اړتیا لیدل کېده، ځکه ډېری آمرین نوي ګمارل شوي او د وزارت رهبری سره ناسته یې ضروري وه آغلي نورستانی په تېر یوه کال کې د آمرینو کارونه او فعالیتونه ارزښتناک وګڼل زیاته یې کړه، چې وزارت د یوې نوې رامنځته شوې اداري په توګه ګڼو ستونزو سره مخ و، خو د ټولو ژمنتیا، مشترک کار او هلې ځلې وې، چې پر ستونزو برلاسي شوو آغلي نورستانی د ۱۳۹۸ل کال د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه هم خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ، چې په ۱۳۹۹ل کال کې باید روڼتیا، د خدمتونو او اسانتیاوو چټکتیا او معلولینو او د شهیدانو کورنیو ته د مناسبو فرصتونو پر رامنځته کولو تمرکز زیات شي د یادونې وړ ده، چې یاد ورکشاپ به دوه ورځې دوام وکړي او د اړوندو برخو رییسان به ولایتي آمرینو ته د کړنلارو، پالیسو او مېکانېزمونو په اړه پرزنټېشنونه وړاندې کړي او په پای کې به ګروپي کار هم ترسره شي






## روی عملی شدن پلان عمل ابراز نظر و اقدامات جریان دارد

معاونیت امور تخنیکی وزارت دولت در امور شهدا و معلولین با نمایندگان ۸ اداره حکومتی تدویر جلسه نمود این نشست که به رهبری محترم جمیله نورستانی معاون امور تخنیکی وزارت متذکره دایر گردیده بود، بحث روی برسی پلان عمل و امضاء تفاهم نامه بین‌الوزارتی صورت گرفت محترم نورستانی در قسمت نقش و تاثیر همکاری ادارات با ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت تذکر داده افزودند: از میان ۳۳ اداره تنها ۲۵ اداره با ما در این مورد تفاهم امضاء نموده اند که ۸ اداره محترم دیگر نیز خواهانیم تا در این مسوولیت ما را همکاری نموده و تفاهم نامه شان را به امضاء برسانند در اخیر خانم نورستانی بعد از استعمای نظریات نمایندگان ادارات مربوطه، نقل تفاهم نامه ها را جهت ابراز نظر گسیل نمودند



## د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د رهبرۍ له لوري د اړوند وزارت د شهیدانو او معلولینو چارو ۳۳ ولایتي آمرینو ته د ورتیا لوړوني او همغږۍ دوه ورځنۍ ورکشاپ

چې دا پروسه بې له ستونزو سره مخ کړې وه. زیاته یې کړه، چې په دې اړه شواهد هم موجود دي ښاغلي آریوبي د معلولیت د تثبیت د صحي کمېسیون غړو څخه غوښتنه وکړه، چې د معلولینو د تثبیت په برخه کې له دقت او روڼتیا کار واخلي، تر څو مستحقو خلکو ته حقوق ورکړل شي. نوموړي عامې روغتیا وزارت، لوی څارنوالۍ، ملي امنیت، د نفوسو د ثبت پر ملي اداري او ملي امنیت عمومي ریاست استازو غږ وکړ، چې د اسنادو په څېړنې، ارزونې او بیا کتنه کې خپله همکاري دوامداره وساتي، څو د جلالتماب جمهور رییس حکم تطبیق شي ښاغلي آریوبي زیاته کړه، چې په ولایاتو کې د اسنادو څېړنې او ارزونې د بایومتریک پروسه له خنډ او خنډ سره مخ کړې وه، د اسناد د څېړنې له بشپړېدو وروسته باید په ټولو ولایاتو کې د بایومتریک پروسه عملا پیل شي ښاغلي آریوبي ووېل، چې د درې سوه لس زره اسنادو له ډلې، اټکل کېږي، چې ۵۰۰۰۰ زره اسناد بې ستونزې لري او دا شمېره له ټولو ۱۷ سلنه جوړوي. نوموړي زیاته کړه، د ناسمو اسنادو د مخنیوي له درکه به درې ملیارده افغانۍ سپما او هغو معلولینو او د شهیدانو کورنیو ته به ورکړل شي چې مستحق دي او پر وخت خپل حقوق نه ترلاسه کوي ښاغلي آریوبي ووېل، چې معلولینو او د شهیدانو د حقوقو اړوند قوانین هم ستونزې لري او د دوی تر منځ بې تبعیض او نابرابري رامنځته کړې ده. د یادو ستونزو د له منځه وړلو لپاره د معلولینو او شهیدانو د حقوقو قانون تعدیل شوی دی ښاغلي آریوبي ووېل، چې د بایومتریک له تطبیق سره به د فساد او نورو غیر قانوني کړنو مخه ونیول شي، نوموړي په همکارو ادارو غږ وکړ، چې په دې برخه کې جدي همکاري وکړي.





د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د رهبرۍ له لوري د اړوند وزارت د شهیدانو او معلولینو چارو ۳۳ ولایتي آمرینو ته د ورتیا لوړوني او همغږۍ دوه ورځنۍ ورکشاپ

آریوبي زیاته کړه، چې په بانکي سکتور کې هم ستونزې موجودې دي عزیزي بانک سره د هوکړه لیک له مخې به ټول بانکي کارتونه له سره وکتل شي او هغه اسناد چې نیمګړي دي معطل او له بشپړېدو وروسته به بانکي کارت ورکړل شي ښاغلي آریوبي همدارنګه د محکمې له لوري د وثیقې پروسس زمانګیره وګڼه ووېل، چې نظامیانو ته به د شهادت فورم ورکړل شي، تر څو خپل وکیل وټاکي او وارثین یې له حقوقو مستحق شي. نوموړي ووېل چې د جلالتماب جمهور رییس د حکم له مخې به د بایومتریک پروسه د نفوسو د ثبت ملي اداري سره په مشترکه توګه ترسره او د مالیې، دفاع او کورنیو چارو وزارتونو سره به شریک ډېټابېس رامنځته شي د همکارو ادارو استازو په خپلو خبرو کې د هر اړخیزې همکارۍ داد ورکړ ووېل، چې په پوره ژمنتیا به کار وکړي، تر څو یاده پروسه بریالۍ او د جلالتماب جمهور رییس حکم په ښه توګه تطبیق شي



# ورکشاپ ارتقاء ظرفیت و هماهنگی برگزار گردید!

در روز دوم ورکشاپ ارتقاء ظرفیت و هماهنگی آمرین ولایتی ورکشاپ زیر نام تحلیل وضعیت، پلان و استراتیژی با اشتراک ۳.۳. تن از آمران امور ولایتی این وزارت تدویر گردید هدف از این ورکشاپ ارتقاء ظرفیت، تحلیل و موضوعات مهم استراتیژی در ولایات می باشد که چگونه مشکلات و پلان های مهم برای ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت که از مراجعین این آمریت ها در ولایات می باشد حل و بررسی گردد این ورکشاپ با تدریس های موضوعات یاد شده به گونه عملی، نظری و کار گروپی پایان یافت.







## ارایه پریزنتیشن و کار گروپی آمرین ولایات در رابطه به پلان کاری و اهداف وزارت دولت در امور شهدا و معلولین!

در روز نخست ورکشاپ دو روزه ارتقاء ظرفیت و هماهنگی آمرین ولایات روی شفافیت در پرداخت حقوق، چگونگی بررسی اسناد معلولین، عوامل فساد و راه های حل، هماهنگی ولایات با مرکز، اتمام پروسه استخدام، تطبیق و توسعه سیستم بایومتریک، مسایل مربوط به جندر، اطلاعات و آگاهی عامه طی پریزنتیشن ارایه گردید. در ورکشاپ مذکور کار گروپی توسط اشتراک کننده گان نیز صورت گرفت و روی موضوعات بحث مفصل نمودند.

